## مطبوعاتي اعلامیه

## سویلي اسیا د دویم راشده خلافت لور ته د تګ او له نوو څېرو سره د تېرو نظامونو د دوام ترمنځ په تاریخي ازمېښت کې ده

د بنګلدیش زړورو مسلمانانو د خپلو لاریونونو په څپې د دغه هیواد لومړۍ وزیره، شیخ حسینه د یوه ظالمانه او په استعمارګرو پورې تړلي حاکمیت تر اوږدې دورې وروسته په ډېر ذلت تېښتې ته اړ ایستله او د هغې د حکومت تیاره دوره یې پای ته ورسوله.

موږ د بنګلدیش مسلمانانو ته د دغې تاریخي لحظې مبارکي وایو او دا نه یوازې په بنګلدیش، بلکې ټوله سویلي اسیا کې یو ستر فرصت او د ویښتابه او نهضت د څپې پیل ګڼو. په سویلي اسیا کې د تېرو درېیو کلونو بدلونونه له «عرب پسرلي» سره پرتله کولی شو. له افغانستان څخه د امریکا تېښتې، د پاکستان ماتېدونکي سیاسي او امنیتي وضعیت او اوس په بنګلدیش کې تحولاتو دا سیمه له یوه تاریخي ازمېښت سره مخ کړې. په دې حساسه لحظه کې لاندې ټکي او عبرتونه د یادولو وړ بولو:

غربي استعمارګر قدرتونه هڅه کوي چې د بدلون دا ستر فرصت – چې د بنګلدیش او ټولې سویلي اسیا د خلکو هیله ده- د څېرو په تغیر سره منحرف کړي. اصلي ستونزه پر اسلامي خاورو د دولت-ملت سیستم حاکمیت دی او د څېرو بدلون ستونزه نه  شي حل کولی.

لکه څنګه چې د عرب پسرلي له پیلیدو سره بن علي له تونس څخه وتښتېد، خو دا چې نظام بدل نه شو، په وضعیت کې ښه‌والی رانغی. حسني مبارک په مصر کې له واکه لرې شو، خو دا چې نظام پر خپل حال پاتې شو، وضعیت تر پخوا لا خراب شو، همغه سیستم د سیسي پشان لا ظالم او لا خاین حاکم واک ته ورساوه. په پاکستان کې هم د ملکي او نظامي رهبرۍ په کچه بدلونونه راغلل، خو دا چې فاسد استعماري سیستم پر خپل حال پاتې شو؛ سیاسي، امنیتي او اقتصادي وضعیت تر پخوا خراب شو. په افغانستان کې هم د څېرو بدلون په بېلابېلو بڼو تکرار شوی. نو د بنګلدیش مسلمان خلک باید له داسې تاریخي تېروتنو درس واخلي او پرې نه ږدي چې د بدلون دغه تنده د څو څېرو په بدلېدو سره خړوبه شي. ځکه استعمارګر هڅه کوي چې په بېلابېلو فرېبونو د نظام په بڼه کې له بدلون پرته، د نوې څېرې په راوستلو سره په بنګلدیش کې خپل نفوذ وساتي.

له هغو عبرتونو چې له دغه ډول پېښو یې باید واخلو، یو یې دا دی چې د واک ریښې باید د ټولنې په ژورو کې وي؛ که نه نو دا ډول حکومتونه پایښت نه لري. ځکه خو اسلام د مشروعیت یوازینۍ لار بیعت ټاکلی، خو د بنګلدیش حکومت د یوه‌حزبي او استبدادي سیاست پر بنسټ عمل کاوه او تر ډېره یې له نړیوالو قدرتونو سره پر اړیکو تکیه کوله. بل عبرت د بنګلدیش «اقتصاد محوره» سیاست دی؛ ټولنه یوازې په اقتصاد سره مخته نه شو بیولی، هغه هم د پانګوالۍ په اقتصاد سره؛ ځکه چې انسانان پر مادي ارزښتونو سربېره، معنوي، اخلاقي او انساني ارزښتونو ته هم اړتیا لري. د خلکو له ارزښتونو سره د بنګلدیش حکومت د سیاستونو د نه همغږۍ له امله د حکومتولۍ پایله فساد شو.

خو اساسي ټکی دا دی چې که ولسي پاڅونونه د یوې مبدأ او اساسي فکر پر بنسټ نه وي؛ منحرفېږي او پایله نه لري. تاریخي تجربو ښودلې چې مسلمانان تل د استعمارګرو په ماتولو او طاغوتي نظامونو په راپرځولو کې بریالي شوي، خو د نظام جوړونې او دولتدارۍ په پړاو کې ناکام شوي. د بنګلدیش د اکثریت مسلمانانو او په ټوله کې د سویلي اسیا د مسلمانانو غوښتنه د دویم راشده خلافت تاسیس او د اسلام حاکمیت دی. د بنګلدیش مسلمانان باید پرې نه ږدي چې له کلونو مبارزې او قربانیو وروسته راغلی دا

فرصت د خلکو په تېرایستونکو ډیموکراټیکو شعارونو او د نظام په بڼه کې له اساسي بدلون پرته له لاسه ووځي. نو په سیمه کې د واک څښتنان باید لاسونه سره ورکړي او له دغه فرصت څخه د دویم راشده خلافت د تاسیس لپاره ګټه پورته کړي؛ ځکه چې له خلافت پرته بل هر نظام به د اشغال، استعمار، ناورین او دیکتاتورۍ دوام وي.

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ۖ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾** [انفال: ٢٤]

**ژباړه:** «اې مؤمنانو! د الله او پیغمبر بلنې ته لبیک ووایئ، کله چې تاسو د ژوند بښونکي څیز لوري ته رابولي او پوه شئ، چې الله د انسان او د هغه د زړه ترمنځ حایل او خنډ ګرځي او بېشکه چې تاسو به د هغه لور ته ورټولېږئ.»

**د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**